پوهاند عبدالحی حبیبی ۲۰۲۱/۰۱/۲۰

# پروفیسور نکلسون



د اروپا په پوهانو کي چي شرقي علومو او مخصوصاً يې اسلامي پوهنو ته ښکاره خدمتونه کړي دي، يو مشهور مستشرق نکلسون دئ، چي د ده شهرت د اسلامي تصوف او صوفيانو په پېژندنه کي ډېر دئ، او ډېر د اسلامي تصوف کتب يې ترجمه او خپاره او چاپ کړي دي.

د ده پوره نوم رينالډای نکلسون دئ، چي په ۱۸٦۸ ع کال د اګسټ پر نونسمه زېږېدلی دئ، پلار يې هنري ايلين نکلسون (ايم، ډي، ايف، آر، ايس) په ايبر ډين پوهنتون کي د طبيعاتو د تاريخ پروفيسور و، پخپله نکلسون هم په ايبرډين او کيمبريج کي لوست وکړ، په ۱۸۸۰ او ۱۸۹۰ ع يې په يوناني ژبه ځيني نظمونه وپېودله او لوی انعام يې واخيست.

ده په ۱۸۹۰ ع د زړو علومو ځانګه په امتيازي ډول پاس کړه او په ۱۸۹۲ ع يې د هند د ژبو امتحان په امتيازي ځېر ورکړ، عربي يې له رابرټس سمت څخه ولوسته او بيا يې په استربرګ او ليډن کي تکميل کړه.

دده پلار هم د عربي يو فاضل سړی و، نو ځکه له کوچنيوالي څخه ده ته د اسلامي ادبياتو د مطالعي ذوق پيدا سو او يوه بل مستشرق براون د ده دا ذوق وربشپړ کړ.

په ۱۹۰۱ ع د لندن په يونيورسټي کالج کي د فارسي ژبي په استادئ وټاکل سو او په ۱۹۰۲ ع يې له دې کاره استعفی وکړه او د کيمبريج په پوهنتون کي د فارسي ژبي استاد مقرر سو، تر ۱۹۲٦ ع پوري د براون په ملګري هلته د فارس په تدريس مشغول و، او تر ۱۹۳۳ ع وروسته له دې پوهنتونه بېل سو.

د ده د مطالعاتو موضوع د اسلام تصوف و، او په خاص ډول يې د مولانا جلال الدين بلخي رومي د مثنوي مطالعه کوله، ده د خپلو تحريراتو آغاز او انجام د مولانا په آثارو سره کړی دئ، لومړی کتاب يې د (شمس تبريز د ديوان انتخاب) دئ، چي په ۱۸۹۸ ع يې چاپ او خپور کړ، آخرنی کتاب يې هم د مثنوي شريف د دريم او څلورم دفتر شرح ده، چي په ۱۹۴۰ ع کال چاپ سو.

نکلسون غوښته چي د مولانا مکمله سوانح وليکي او د مثنوي شريف لساني او ادبي تاريخي خواوي وپلټي په دې

سلسله کي ده اته کتابونه کښلي دي، چي شل کاله پرله پسې په دې خدمت مشغول دئ، علاوه پر دې يې لاندي کتب هم چاپ کړي دي:

تذکرة الاولياء، چي د شيخ عطار اثر دئ، لومړی ټوک يې په ۱۹۰۵ ع او دوهم ټوک يې په ۱۹۰۷ ع له قلمي نسخو څخه په خورا صحت چاپ او خپور کړ.

کشف المحجوب، د علي هجويري چي دا کتاب يې په ۱۹۱۱ ع په انګليسي ترجمه او چاپ کړ.

د ابن العربي ترجمان الاشواق، په ۱۹۱۱ ع ترجمه او تحشيه کړ.

په ۱۹۱۴ ع يې د اسلامي صوفيانو Mystics of Islam کتاب خپور کړ.

کتاب اللمع چي په ۱۹۱۵ ع يې د دغه کتاب مضامين لنډ په انګليسي وکښله.

په ۱۹۲۰ يې د علامه اقبال اسرار خودي اقتباس کړه.

په ۱۹۲۱ کي يې د اسلامي تصوف مطالعات شرو کړه، چي په انګليسي يې Studies of Islamic Mysticism وباله، دا کتاب د اسلامي تصوف ښه معلومات لري.

په ۱۹۲۳ ع يې يو کتاب وکيښ (په تصوف کي د ذات تخيل).

د ده له نورو آثارو څخه (د عربي ادب تاريخ) ډېر مشهور دئ، چي په ۱۹۰۷ ع کي خپور سو.

نکلسون په اسلامي دائرة المعارف کي ځيني ښې ښې مقالي ليکلي دي، چي خورا اهميت لري او ډېر نور آثار او رسالي هم ده ليکلي او خپري کړي دي. نکلسون د صبر او استقلال او زيار او زحمت خاوند و، ټول عمر يې په علمي څېړنو کي تېر کړ او شرقي او اسلامي علومو ته يې ښکاره خدمتونه وکړه، بلکي د اروپا او شرق تر منځ يې يوه د اخوت رشته پيدا کړه او اسلامي علومو ته يې نوې دنيا ملتفه کړه او له دې لاري يې يو بين المللي شهرت وګاټه. دا عالم يو کال دمخه د ۱۹۴۵ ع کال د اګست پر ۲۷مه په انګلستان کي وفات سو او د ده وفات علمي دنيا ته يوه لويه صدمه ده، خاص بيا شرقي تمدن او اسلامي علوم د ده له وفاته متأثر دي.

کابل مجله، ۱۳۲۵ ش کال، دريمه ګڼه، ۷۰ مخ.

پای

Dawatmedia24.com